**Pashto** **پښتو**

# Opdateret: Information om særlov for evakuerede personer fra Afghanistan

## آپډیت: له افغانستان څخه د ایستل شویو کسانو لپاره د ځانګړي قانون په اړه معلومات

د 2021م کال د نوامبر پر یوه لسمه د دنمارک حکومت هغه کسانو لپاره د لنډمهاله اقامې اجازې په اړه قانون (ځانګړي قانون) تصویب کړل چې په افغانستان کې یې د دنمارکي چارواکو سره او نورو سره مرسته کړې دي.

دا قانون د 2021م کال د نوامبر په اتلسمه نافذ شو، او دا پدې مانا ده چې ځینې کسان چې په افغانستان کې یې د دنمارک هڅو کې برخه اخستې او همدا راز د دوی د کورنۍ غړي به وکولای شي په دنمارک کې د اقامې لنډمهاله اجازه تر لاسه کړي.

د دغه قانون له مخې د اقامې د اجازې لپاره غوښتنلیک باید د دنمارک د بهرنیانو چارو اداري ته **د 2021م کال د نوامبر تر 24مه** وسپارل شي. که چیرې خورا ځانګړي شرایط موجود وي، کیدای شي چې غوښتنلیکونه د نوامبر له 24مه وروسته هم وسپارل شي خو د دسمبر تر اوله پورې، خو بیا هم په وخت سره سپارل په پام کې ونیول شي.

د دنمارک د بهرنیانو چارو اداره د [nyidanmark.dk](nyidanmark.dk) په سایت کې یوه پاڼه جوړه کړې چې تاسو کولای شئ د ځانګړي قانون په اړه نور معلومات تر لاسه کړئ، او په همدغه پاڼه امکان یې شته چې تاسو د ځانګړي قانون له مخې د اقامې د اجازې لپاره غوښتنه وکړئ.

همدا راز تاسو، چې د ځانګړي قانون له مخې همدا اوس د اقامې اجازې تر لاسه کړې ده، کولای شئ د مقرراتو په اړه نور معلومات هم تر لاسه کړئ، که غواړئ د کورنۍ د غړو د بیا یوځای کیدو غوښتنه وکړئ، چې د دنمارک څخه بهر اوسیږي.

د ځانګړي قانون په اړه پاڼه وګورئ
دا خبر په پښتو ولولئ